**د افغانستـــــان اســـــــلامي امارت**

**د ارشـــــــاد، حج او اوقافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام عمومي رياست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او ليکلی تقرير اوبيان چې د هيواد مرکز او ولاياتو ټولو خطيبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې ليږل کيږي.**

**۱۸/جمادی الثاني /۱۴۴۶ هـ، ق مطابق۳۰/ قوس/۱۴۰۳هـ، ش**

# لمونځ هغه وخت قبليږي چې په سَمه او صحيح طريقې سره اداء کړل شي

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله الملك الجبار، الواحد القهار، وأشهد أن لاإله إلاالله وحده لاشريك له ، رب السموات والأرض ومابينهما العزيز الغفار ، وأشهد أن محمداً عبده ورسوله المصطفى المختار، صلى الله عليه وعلى آله وصحبه الأخيار، أما بعد :

قال الله سبحانه وتعالى : {وَهُوَ الَّذِي يَقْبَلُ التَّوبَةَ عَنْ عِبَادِهِ وَيَعْفُو عَنِ السَّيِّئَاتِ وَيَعْلَمُ مَا تَفْعَلُونَ(۲۵) وَيَسْتَجِيبُ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ وَيَزِيدُهُمْ مِنْ فَضْلِهِ وَالْكَافِرُونَ لَهُمْ عَذَابٌ شَدِيدٌ}الشورى: (۲۶)

**محترمو حاضرينو او درنو سامعينو!**

**السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته.**

د ايمان څخه وروسته د هر عبادت د قبليدو لپاره دوه شرطونه دي؛ يو داچې عبادت به خاص دالله تعالی د رضا لپاره وي او بل داچې عبادت بايد په هغې طريقې سره اداء شي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم اداء کړی وي. که چيرې څوک کلونه کلونه عبادت وکړي؛ خو تر څو چې د الله رضا په کې ملحوظ نه وي داسې عبادت الله تعالی منظور نه دی لکه چې الله جل جلاله فرمايلي دي: { وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ وَيُقِيمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ وَذَلِكَ دِينُ الْقَيِّمَةِ } البينة :(۵)

ترجمه: او حال دا چې امر حکم نه وو ور کړی شوی دوی ته په تورات او انجيل کې مگر ورکړی شوی وو چې عبادت وکړي دوی د الله په داسې حال کې چې خالص کوونکي وي الله لره دين له شرکه او نفاقه په داسې حال کې چې را گرځېدونکي وي له باطل نه حق ته.

او( بل دوی مامور دي په دې چې) قائموي سمه اداء کوي( سره ټولو حقوقو)لمونځ، او ورکوي زکات ، او دا (مامور به شيان) دين دی محکم( مستقيم چې هيڅ کوږوالی پکې نشته).

که څوک په کلونو کلونو د عبادت وکړي ؛ خو چې د رسول الله صلی الله عليه وسلم له طريقې څخه مخالف وي ؛ الله تعالی ته منظور نه دی او يواځې هغه عبادت الله تعالی قبلوي چې په سَمه او صحيح طريقې سره اداء شي هغه که لمونځ وي، که روژه وي يا که بل کوم عبادت وي.الله تعالی فرمايلي دي: {قُلْ إِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّونَ اللَّهَ فَاتَّبِعُونِي يُحْبِبْكُمُ اللَّهُ وَيَغْفِرْ لَكُمْ ذُنُوبَكُمْ وَاللَّهُ غَفُورٌ رَحِيمٌ} آل عمران: (۳۱)

ترجمه: ووايه(ای محمده! دوی ته) که چيرې يئ تاسې چې محبت کوئ له الله سره ، پس متابعت وکړئ زما، چې محبت به وکړي الله تاسې سره، او مغفرت به وکړي تاسې ته د گناهونو ستاسې، او الله مغفرت کوونکی دی د (خطياتو) ډېر رحم کوونکی دی.

لمونځ چې داسلام لوی رکن دی او په لمانځه سره مسلمان الله تعالی ته نږدې کیږي په دې شرط چې د مسلمان لمونځ د الله تعالی په دربار کې قبول شي او د مسلمان لمونځ هغه وخت قبليږي چې په سَمه او صحیح طریقې سره اداء شي او په لمانځه کې د لمانځه شروط، فرائض، واجبات او سنتونه او آداب په ښه شان رعایت شوي وي. الله تعالی چې په قرآن کریم کې هر کله د لمانځه حکم ذکر کړی دی نو داسې یې فرمایلي دي( أقيموا الصلاة) یا (وأقاموا الصلاة) داسې یې نه دي فرمایلي چې (افعلوا الصلاة) یا (ادوا الصلاة) د لمانځه د قائمولو څخه مراد د لمانځه د شرطونو، ارکانو، واجباتو ، سنتو او آدابو رعایتول او لمونځ په خپل وخت کې کول دي.

امام زمخشري رح چې د عربي ژبې د لغت لوی امام دی، هغه د لمانځه د قائمولو په معنا کې لیکي دي: (ومعنى اقامة الصلاة تعديل أركانها وحفظها من ان يقع زيغ في فرائضها وسننها وآدابها). تفسير الكشاف (١ /٨١)

ترجمه: او د (اقامة الصلاة) معنا د لمانځه د ارکانو تعدیل کول دي او د لمانځه ساتل دي ددینه چې واقع نشي کوږوالی په فرائضو د لمانځه کې او په سنتو دلمانځه کې او په آدابو دلمانځه کې.

همدارنګه رسول الله صلى الله عليه وسلم مالك بن الحويرث او د هغه ملګرو ته وفرمایل: (صَلُّوا كَمَا رَأَيْتُمُونِي أُصَلِّي) صحيح البخاري(١ /١٢٨)

ژباړه: تاسو لمونځ کوئ لکه څرنګه چې تاسې زه ولیدم چې څنګه زه لمونځ کوم.

که چیرې په لمانځه کې د لمانځه شرطونه، ارکان او واجبات په سَمه او صحیح ډول مراعت نشي ؛ نو داسې لمونځ الله تعالی ته منظور نه دی؛ بلکې ناقص او نیمګړی لمونځ به را واخیستل شي او د لمونځ کوونکي پر مخ باندې به وویشتل شي. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: « إِذَا أَحْسَنَ الرَّجُلُ الصَّلَاةَ فَأَتَمَّ رُكُوعَهَا وَسُجُودَهَا قَالَتِ الصَّلَاةُ: حَفِظَكَ اللَّهُ كَمَا حَفِظْتَنِي فَتُرْفَعُ، وَإِذَا أَسَاءَ الصَّلَاةَ فَلَمْ يُتِمَّ رُكُوعَهَا وَسُجُودَهَا قَالَتِ الصَّلَاةُ: ضَيَّعَكَ اللَّهُ كَمَا ضَيَّعْتَنِي فَتُلَفُّ كَمَا يُلَفُّ الثَّوْبُ الْخَلَقُ فَيُضْرَبُ بِهَا وَجْهُهُ». مسند أبي داود الطيالسي (١ /٤٧٩)

ژباړه: د عباده بن صامت رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي دي: کله چې په ښه طریقه لمونځ وکړي سړی او د لمانځه رکوع او سجده پوره وکړي؛ لمونځ ووایې: الله تعالی دې داسې حفاظت وکړي لکه څرنګه چې دې زما حفاظت وکړ او بیا پورته کړل شي او کله چې(انسان) په بده طریقې سره لمونځ وکړي، پس د لمانځه رکوع او سجده پوره نکړي ، لمونځ ووایې: الله تعالی دې داسې ضائع کړه لکه څرنګه چې زه دې ضائع کړم. بیا لمونځ را وپیچل شي لکه څرنګه چې پیچل (راټول کیږي) جامه زړه او بیا وویشتل شي ورباندې مخ د(لمونځ کوونکي).

امام محمد بن نصر مروزي رح فرمایې: په لمانځه کې پرته له لمانځه څخه بل عمل کول ځینې هغه دي چې لمونځ فاسدوي او ځینې یې داسې دي چې د هغه عمل په وجه سجده سهوه لازمیږي څو ځینو نور داسې دي چې د لمانځه ثواب کموي او ټول اهل علم په دې اجماع لري  چې کله کوم اندام پرته د لمانځه د اعمالو څخه په بل عمل باندې مشغول شو او یا زړه  د لمونځ کوونکي پرته له لمانځه څخه په بل څه کې مشغول شو ؛ نو په دې سره د لمانځه ثواب کمیږي . تعظيم قدر الصلاة لمحمد بن نصر المروزي (١ /١٧٢)

**په نیمګړي اودس سره لمونځ کول :** لمونځ هغه وخت قبلیږي چې په سمه او صحیح طریقې سره اداء شي او لمونځ هغه وخت سم او صحیح وي چې په سمه طریقه اودس وشي. اودس کول د لمانځه له شرطونو څخه دی او پرته له اودس څخه لمونځ صحت نلري . ځینې کسان نیمګړی اودس کوي ؛ او غړي سم مکمل نه وینځي؛ بلکې ځینې کسان ترڅنګلو پورې لاسونه نه وینځي، ځینې کسان پښې پوره او سمې نه وینځي او د پښو ښنګري او د ښنګرو د شاته برخه وینځل ورڅخه پاتې وي او اوبه ورته نه رسوي؛ حال داچې الله تعالی فرمایلي دي: {يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُؤُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ}المائدة: (٦)

ترجمه: ای هغو کسانو چې ایمان یې راوړی دی (یعنی ای مؤمنانو!) کله چې پاڅیږئ تاسې لمانځه ته( او بې اودسه یئ) نو وویندئ تاسې مخونه خپل او لاسونه خپل تر څنگولو پورې( سره له څنگلو) او مسح وکړئ تاسې په سرونو خپلو او (وویندئ تاسې) پښې خپلې تر پړکیو پورې (سره له پړکیو)،

**توضیح:** په پورتني مبارک آیت کې په واضحه توگه راغلي دي چې لاسونه ترڅنگلو پورې وویندئ او پښې تر گیټکیو پورې وویندئ. هرکله چې د اعضاوو وینځل پوره ونه وینځل شول، نو اودس ونه شو او چې اودس ونه شي نو د نیمگړي اودس لمونځ به څرنگه قبول شي؟

په حدیث شریف کې په دې باره کې سخت وعید راغلی دی. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ عَمْرٍو أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- رَأَى قَوْمًا وَأَعْقَابُهُمْ تَلُوحُ فَقَالَ « وَيْلٌ لِلأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ أَسْبِغُوا الْوُضُوءَ ». سنن أبى داود-ن (۱ /۳۶)

ژباړه: د عبدالله بن عمرو رضي الله عنه څخه روایت دی چې یقیناً رسول الله صلی الله علیه وسلم څه خلک ولیدل چې د هغوی پوندې سپینې ځلېدلې (اوبه ورته نه وی رسیدلی) نبي علیه السلام وفرمایل: هلاکت دې وي پوندو لره د اور څخه(یعنې په اور دې وسوځي د پوندې) . پوره کوئ اودس لره.

نو هغه لمونځ به څرنگه قبول شي چې په سمه او صحیح توگه اودس نه وي کړی؟

عَنْ آدَمَ بْنِ عَلِيٍّ، قَالَ: سَمِعْتُ ابْنَ عُمَرَ، يَقُولُ: يُدْعَى أُنَاسٌ يَوْمَ الْقِيَامَةِ الْمَنْقُوصِينَ، قُلْتُ: وَمَا الْمَنْقُوصُونَ؟ قَالَ: الَّذِينَ يُنْقِصُ أَحَدُهُمْ فِي وَضُوئِهِ) عبد الرزاق الصنعاني (۲ /۳۷۱) ،تعظیم قدر الصلاة لمحمد بن نصر المروزي (۱ /۱۹۲) وقال ابن رجب اسنانه جید. فتح الباري ـ لابن رجب(٤ /٤۰۱)

ژباړه: د آدم بن علی رحمه الله څخه روایت دی ، هغه وایې چې ما دعبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه اوریدلي دي چې وه یې فرمایل:را غوښتل کیږي به ځینې کسان په داسې حال کې چې نقصانیان به وي. ما ورته وویل: دا نقصانیان څوک دي؟ عبدالله بن عمررضي الله وفرمایل: نقصانیان هغه کسان دي چې ددوی څخه یو کس نقصان کوي په اودس کې .

**په ناپاکو جامو سره او ناپاک ځای کې لمونځ کول :** لمونځ هغه وخت قبلیږي چې د لمانځه ټول شرطونه رعایت شوي وي چې د لمانځه په شرطونو څخه د لباس او ځای پاکوالی دی. له هر قسم نجاست څخه د جامو او د لمانځه دځای پاکوالی د لمانځه له شرطونو څخه دي او چې شرط په ځای نشي مشروط تحقق نه مومي. ځینې کسان او اکثره زنانه د جامو پاکوالي ته هیڅ توجه نه کوي او په نجسو جامو سره لمونځ کوي .همدارنگه اکثره زنانه په کور کې د لمانځه لپاره عرفي مسجد پاکوالي ته توجه نه کوي او په نجس ځای کې لمونځ کوي. الله تعالی فرمایلي دي:{ وَثِيَابَكَ فَطَهِّرْ}المدثر: (٤)

ترجمه:او کالي(جامې) خپل پاک وساته!(له پلیتی نه، لکه چې ځان دې پاک ساتې).

**په عجلې سره لمونځ کول او دلمانځه په ارکانو کې اعتدال او اطمینان نه رعایتول:**

لمونځ هغه وخت قبلیږي چې په سمه او صحیح طریقې سره اداء کړل شي، چې د لمانځه سمه او صحیح طریقه داده چې د لمانځه رکوع او سجده په پوره سکون او اطمینان سره اداء کړل شي. سمه رکوع هغه ده چې په پوره اطمینان سره په دواړو لاسونو د زنگنونو سرونه ونیول شي او پوره تسبیحات په کې وویل شي او اعتدال په کې رعایت کړي او بیا قَومې ته پورته شي او په قومه کې هم تعدیل او اطمینان رعایت کړي او بیا سجده وکړي په سجده کې اووه واړه اندامونه په ځمکه کیږدي او پوره تسبیحات په کې ووایې او اعتدال په کې رعایت کړي او بیا د جلسې لپاره کینې او ښه په اطمینان سره جلسه وکړي او بیا په دوهم ځل سجده وکړي لکه د لومړي ځل په شان.

په رکوع او سجده کې اعتدال واجب دی او داعتدال تعریف امام ابن نجیم رح داسې کړی دی: (وهو تسكين الجوارح في الركوع والسجود حتى تطمئن مفاصله وأدناه مقدار تسبيحة وهو واجب على تخريج الكرخي وهو الصحيح كما في شرح المنية وسنة على تخريج الجرجاني وفرض على ما نقله الحاوي عن الثلاثة والذي نقله الجم الغفير أنه واجب عند أبي حنيفة ومحمد فرض عند أبي يوسف). البحر الرائق (١ /٣١٦)

اعتدال په رکوع او سجده کې د اندامونو سکون او اراموالي ته وايي؛ تردې پورې چې د لمونځ گذار ټول مفصلونه مطمئن شي او داعتدال کمه اندازه د يوځل تسبيح ويل دي . تعديل الاركان د امام کرخي رح دتخريج په اساس واجب دی او دا صحيح قول دی لکه چې په منية المصلي کې راغلي او د امام جرجاني رح د تخريج په اساس تعديل الارکان سنت دی او تعديل الارکان فرض دی بناپر هغه روايت چې د ايمه ثلاثه ؤ څخه الحاوي نقل کړي دي؛ خو هغه خبره چې لوی زياتو علماوو نقل کړي دي هغه دادي چې اعتدال دارکانو واجب دی په نزد دامام ابوحنيفه او امام محمد رحمهما الله او دامام ابويوسف رح په نزد فرض دی.
ځينې خلک داسې په تيزۍ او عجلې سره لمونځ کوي چې نه يې رکوع معلوميږي او نه يې سجده معلوميږي، رکوع ته ښکته شي ملا يې لا ښکته کړی نه وي چې سمدستې يې پورته کړي او شرعي رکوع ونکړي. همداراز د سجدې پر وخت لا ځمکې ته رسيدلی نه وي چې سرېې بيرته پورته کړی وي، ځينې خلک تندې له ځمکې سره لږوي او پوزه ييښې په ځمکه نه لږوي.
او کله په دې هم نه پوهيږي چې ما څو رکعته وکړل او يا په کوم رکن کې قرار لرم؟
کله به چې نبي عليه السلام سجده کوله ، نو په اوو اندامونو به يې سجده کوله، په دواړو زنگنونو ، په دواړو لاسونو، ددواړو په پښو په دواړو پنجو او په پوزه او تندي سره.
په يو روايت کې راځي: عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُمَا، قَالَ: قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أُمِرْتُ أَنْ أَسْجُدَ عَلَى سَبْعَةِ أَعْظُمٍ عَلَى الجَبْهَةِ، وَأَشَارَ بِيَدِهِ عَلَى أَنْفِهِ وَاليَدَيْنِ وَالرُّكْبَتَيْنِ، وَأَطْرَافِ القَدَمَيْنِ وَلاَ نَكْفِتَ الثِّيَابَ وَالشَّعَرَ» صحيح البخاري (١ /١٦٢)
ژباړه: له حضرت عبدالله بن عباس رضی الله عنهماڅخه روايت دی، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ماته امر شوی دی چې زه سجده وکړم په اووو اندامونو سره په تندې باندې او په لاس سره يې اشاره وکړه پوزې ته او په دواړو لاسونو باندې او په دواړو زنگنونو باندې او د پښو دواړو څوکو باندې (او ما ته امر شوی) چې نه را ټولوم جامې او ويښتان.
که لمونځ کونکي په دې طريقې سره لمونځ و نکړ نو بيا دا هغه لمونځ دی چې په صحيح طريقه ندی اداء شوی او قبليږي هم نه.
دا هغه لمونځونه دي چې په سمه او صحيح طريقې سره نه اداء کيږي او قبليږي هم نه. په يو روايت کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَخَلَ الْمَسْجِدَ فَدَخَلَ رَجُلٌ فَصَلَّى فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَرَدَّ وَقَالَ:« ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ فَرَجَعَ يُصَلِّي كَمَا صَلَّى ثُمَّ جَاءَ فَسَلَّمَ عَلَى النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ ارْجِعْ فَصَلِّ فَإِنَّكَ لَمْ تُصَلِّ ثَلَاثًا فَقَالَ وَالَّذِي بَعَثَكَ بِالْحَقِّ مَا أُحْسِنُ غَيْرَهُ فَعَلِّمْنِي فَقَالَ إِذَا قُمْتَ إِلَى الصَّلَاةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَأْ مَا تَيَسَّرَ مَعَكَ مِنْ الْقُرْآنِ ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا ثُمَّ اسْجُدْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ سَاجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا وَافْعَلْ ذَلِكَ فِي صَلَاتِكَ كُلِّهَا»صحيح البخاري (٢ /١٦٨)

ژباړه: له حضرت ابوهريره رضی الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايي چې رسول الله صلی الله عليه وسلم مسجدته تشريف راوړ ،په دې مهال يوبل کس هم مسجدته راغی اولمونځ يې وکړ ،بيارسول الله ته راغی اوسلام يې وکړ، رسول الله صلی الله عليه وسلم دسلام ځواب ورکړاو ورته يې وفرمايل ورشه لمونځ دي وکړه تالمونځ نه دی کړی ! هغه هم ولاړ بيايې هغسې لمونځ وکړ لکه مخکې چې يې کړی ؤ او د نبي عليه السلام خواته راغی بيايې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته سلام وکړ ، رسول الله صلی الله عليه وسلم بيا ورته وفرمايل ولاړ شه لمونځ وکړه تالمونځ نه دی کړی ! همداسې درې ځله تکرار شو دنبي عليه السلام وينا او د هغه سړي لمونځ . آخر هغه صحابي عرض وکړ زمادې په هغه ذات قسم وي چې ته يې په حق سره راليږلی يې زه تردې ښه لمونځ نه شم کولی، ماته لمونځ راوښايه ! رسول الله صلی الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې کله لمانځه ته ودريږې نوالله اکبر ووايه بيا قرآن کريم ووايه څومره چې تاته آسان وي، بيارکوع وکړه تر هغې پورې چې ته د رکوع په حالت کې مطمئن شې ، بيا سر له رکوع څخه پورته کړه ترڅو چې ته مطمئن شې په

ولاړه باندې بیا سجده وکړه تر دې پورې چې ته مطمئن شئ په سجده کې ، بیا سره له سجدې پورته کړه ترڅو چې ته مطمئن شئ په د جلسې په حالت کې او دا کار وکړه په خپل ټول لمانځه کې.

په رکوع او سجده کې د اطمینان او سکون رعایتولو په اړه په یو بل حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي مَسْعُودٍ الأَنْصَارِيِّ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «لَا تُجْزِئُ صَلَاةٌ لَا يُقِيمُ فِيهَا الرَّجُلُ - يَعْنِي - صُلْبَهُ فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ». سنن الترمذي (٢ /٥١)

ژباړه: د ابو مسعود انصاري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: نه جائز کیږي هغه لمونځ چې نه سیده کوي او نه برابروي په هغه کې سړی ملا خپله په رکوع او سجده کې.

دامام نسائي په روایت کې راځي: عَنْ أَنَسٍ، عَنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اعْتَدِلُوا فِي الرُّكُوعِ وَالسُّجُودِ» سنن النسائي (٢/ ١٨٣)

ژباړه: دانس رضي الله عنه څخه روایت دی هغه رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې نبي علیه السلام وفرمایل: اعتدال وکړئ په رکوع او سجده کې.

کوم کسان چې په تیزۍ او عجلې سره لمونځ کوي او رکوع او سجده په سمه توګه نه کوي، هغوی ته بدترین غله ویل شوي دي. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ الْخُدْرِيِّ أَنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «إِنَّ أَسْوَأَ النَّاسِ سَرِقَةً، الَّذِي يَسْرِقُ صَلَاتَهُ» ، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ يَسْرِقُهَا؟ قَالَ :«لَا يُتِمُّ رُكُوعَهَا وَلَا سُجُودَهَا». مسند أحمد مخرجا (١٨ /٩٠)

ژباړه: له ابو سعیدرخدري رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : بیشکه ډیر بد د خلکو نه د غلا په لحاظ هغه څوک دی چې له لمانځه څخه غلاکوي ، صحابه کرامو عرض وکړ ای دالله رسوله د لمانځه نه څنګه غلا کوي رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل : چې نه پوره کوي د لمانځه رکوع اوسجده (یعني له اطمنان اوسکون پرته لمونځ کوي.

عَنْ أَبِي وَائِلٍ عَنْ حُذَيْفَةَ رَأَى رَجُلًا لَا يُتِمُّ رُكُوعَهُ وَلَا سُجُودَهُ فَلَمَّا قَضَى صَلَاتَهُ قَالَ لَهُ حُذَيْفَةُ:« مَا صَلَّيْتَ قَالَ وَأَحْسِبُهُ قَالَ لَوْ مُتَّ مُتَّ عَلَى غَيْرِ سُنَّةِ مُحَمَّدٍ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ »صحيح البخاري (١ /٤٠٠)

ژباړه: حضرت حذیفه رضی الله عنه یوکس ولید چې دلمونځ کولو په مهال یې رکوع اوسجده په سمه طریقه نه اداء کوله ، نوکله چې هغه له لمانځه فارغ شو، نوحضرت حذیفه رضی الله عنه ورته وفرمایل : تاسولمونځ نه دی کړی ، ،زه ګمان کوم چې داسې یې وفرمایل: که چیرې ته مړ شوی، نو مړ به شئ پرته د محمد صلی الله علیه وسلم له سنتو څخه د بل چا په سنتو باندې (به مړشئ).

په عجله او تیزۍ سره لمونځ څخه رسول الله صلی الله علیه وسلم منع کړی ده او له کوم لمونځ څخه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه منع وکړي ؛ نو هغه به څرنګه دالله تعالی په وړاندې قبول شي.

عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ شِبْلٍ الْأَنْصَارِيِّ، أَنَّهُ قَالَ إِنَّ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ : «نَهَى فِي الصَّلَاةِ عَنْ ثَلَاثٍ: نَقْرِ الْغُرَابِ، وَافْتِرَاشِ السَّبُعِ، وَأَنْ يُوطِنَ الرَّجُلُ الْمَقَامَ الْوَاحِدَ كَإِيطَانِ الْبَعِيرِ». مسند أحمد مخرجا (٢٤ /٢٩٤)

ژباړه:له حضرت عبدالرحمن بن شبل رضی الله عنه څخه روایت دی، هغه وایې چې بیشکه رسول الله صلی الله علیه وسلم په لمانځه کې منع کړې د درې قسمه کارونو څخه، دکارغه غوندې له مشوکې وهلو ، (یعني په تلواره تلواره لمونځ کولو ) او ددرنده په شان له

لاسونو غزولو (په سجده کې)  اوله دي ښځه چې یو څوک (په مسجدکې) دلمانځه لپاره کوم خاص ځای وټاکي لکه په شان د ټاکلو داوښ خاص ځای لره.(په پڼ غالي کې)

**د زړه په غفلت سره او د زړه په  عدم حضور سره لمونځ کول:** یو له هغو کارونو ښځه چې خلک وربانديې مبتلاء دي هغه دادی چې ځینې کسان لمونځ کوي، خو زړه یې غائب وي او په دنیوي کارونو کې سوچونه او فکرونه کوي او په دې نه پوهیږي چې په کوم رکن کې ولاړ دی او په دې هم نه پوهیږي چې د قیام په حالت کې دی او د رکوع او که په سجده کې دی؟ بلکې زړه یې له لمانځه غافله وي قلبي حضور نلري یا ددوکان په کارونو کې سوچونه کوي یا د تجارت په کارونو کې فکرونه کوي یا د پیسو په ګټه او یا تاوان کې سوچونه وهي او چې کله امام سلام وګرځوي ؛ نو هغه هم سلام وګرځوي .

امام محمد بن نصر مروزي وايي: د لمونځ عظمت دادی چې په ټولو جوارحو سره اداء کیږي او دا دلمانځه خصوصیت دی په نورو عبادتونو باندې چې نور عبادتونه یواځې په ژبه اداء کیږي، ځینې په نورو اندامونو ؛ خو لمونځ هغه عبادت دی چې په ټولو اعضاوو او اندامونو سره باید اداء شي او بنده باید د بدن ټول اعضاء ورته ودروي او زړه هم په لمانځه مشغول کړي ترڅو په دې پوهه شي چې څه تلاوت کوي او څه په کې وایې. تعظیم قدر الصلاة لمحمد بن نصر المروزي (١ /١٧)

عَنْ عُقْبَةَ بْنِ عَامِرٍ الْجُهَنِيِّ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَنْ تَوَضَّأَ فَأَحْسَنَ الْوُضُوءَ، ثُمَّ صَلَّى رَكْعَتَيْنِ يُقْبِلُ عَلَيْهِمَا بِقَلْبِهِ وَوَجْهِهِ وَجَبَتْ لَهُ الْجَنَّةُ» سنن أبي داود ت الأرنؤوط (١ /١٢٢)، سنن النسائي (١ /٩٥)

ژباړه:له حضرت عقبه بن عامررضی الله عنه ښځه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل : چا چې اودس وکړ په ښه توګه اوبیا دوه رکعته په دي ډول کوي چې زړه او مخ  یې د لمانځه طرف ته متوجه وي نود هغه لپاره جنت واجب شو.

**توضیح:** په پورتني حدیث شریف کې راځي چې دوه رکعته وکړي او هغې ته په زړه او په مخ باندې متوجه وي یعنې قلباً حاضر وي او توجه یې مکمل لمانځه ته وي ؛ نو جنت ورلره واجب شو. که چیرې څوک دغفلت او بې پروایې او په داسې حالت کې لمونځ کوي چې د زړه حضور یې نه وي؛ نو بیا دغه فضیلت هغه لره نشته.

**په لمانځه کې د جامو او ږیرې سره لوبې کول چې د خشوع مخالف اومکروه عمل دی.**

لمونځ هغه وخت قبلیږي چې په سمه او صحیح طریقې سره اداء کړل شي او د لمانځه داداء کولو صحیح او سمه طریقه داده چې لمونځ په خشوع او خضوع سره اداء شي او په لمانځه کې په جامو ، ږیره ، مبائل، مسواک او په نورو شیانو ځان مشغوله نکړي ؛ ځکه چې کامل لمونځ هغه دی په خشوع او عاجزی سره اداء شي او په جامو یا ږیره یا مبائل ښکته پورته کول د خشوع او خضوع مخالف عمل دی . الله جل جلاله هغو مؤمنانو ته کامیاب ویلي دي چې هغوی په خپلو لمونځونو کې خشوع کوي، لکه چې الله جل جلاله فرمایلي دي: {قَدْ أَفْلَحَ الْمُؤْمِنُونَ(١) الَّذِينَ هُمْ فِي صَلَاتِهِمْ خَاشِعُونَ} المؤمنون: (٢)

ترجمه: په تحقیق بریالي(بهرمن کامیاب) شوي دي مؤمنان. هغه (مؤمنان ) چې دوی په لمونځونو خپلو کې عاجزي کوونکي ویریدونکي دي(له الله نه).

توضیح: د[خاشعون] معنا تواضع کوونکي او ویریدونکي ده. مفسرین ددې آیت په تفسیر کې وایې چې محل د خشوع دوه شیان دي یو زړه دی ؛ لمونځ کوونکی باید په زړه سره په لمانځه عاجزي اختیار کړي او بل سترګې دي. لمونځ کوونکی باید په سترګو کې خشوع پیدا کړي او آسمان ته دې سترګې نه پورته کوي. النکت والعیون (٤ /٤٦)، تفسیر ابن کثیر(٣ /٢٩٢)

په یو روایت کې راځي: عن أبان قال رأى بن المسيب رجلا يعبث بلحيته في الصلاة فقال إني لأرى هذا لو خشع قلبه خشعت جوارحه). مصنف عبد الرزاق (٢ /٢٦)

ترجمه: له ابان رح څخه روایت دی هغه وایې چې سعیدبن المسیب یو سړی ولیده چې د خپلې ږیرې سره یې په لمانځه کې لوبې کولی؛ نو سعید بن المسیب وویل: که چیرې دده په زړه کې خشوع وای ؛ نو په اندامونو کې به یې هم خشوع وایې. او فقهاء کرام وایې چې جامو سره او ږیرې او ویښتانو سره لوبې کول او د ګوتو څخه ټکونه ویستل او ښي لورې ته کتل یا کیڼ لورې ته کتل مکروه دي. بلکې که چیرې دا عملونه زیات شي دېته عمل کثیر ویل کیږي او په عمل کثیر باندې لمونځ فاسدیږي.

په یو بل آیت کې الله تعالی په لمانځه په سکون او ارامۍ سره امر کړی دی او فرمایلي یې دي: {حَافِظُوا عَلَى الصَّلَوَاتِ وَالصَّلَاةِ الْوُسْطَى وَقُومُوا لِلَّهِ قَانِتِينَ} البقرة: (٢٣٨)

ترجمه: ساتنه کوئ تاسې! پر (ټولو) لمونځونو باندې او( خصوصاً)په لمانځه منځني باندې ( چې مازدیګر دی)، او ودریږئ تاسې! الله ته وېرېدونکي (په ادب سره).

امام ابن کثیر رح د[قانتین] په تفسیر کې لیکي: (أي خاشعين ذليلين مستكينين بين يديه). تفسیر ابن کثیر (١ /٣٦٤)

ترجمه: خشوع کوونکي، عاجزي کوونکي او سکون اختیاروونکي دالله تعالی په حضور کې.

په احادیثو کې اسمان ته کتل، یا په ږیره او ویښتانو سره لوبې کول یا ښي او چپ لورې ته کتل د خشوع خلاف عملونه بلل شوی دي.

عن جُبَيْر عن عُبَادَةَ بْنَ الصَّامِتِ، أنه قال إِنْ شِئْتَ لَأُحَدِّثَنَّكَ بِأَوَّلِ عِلْمٍ يُرْفَعُ مِنَ النَّاسِ؟ الخُشُوعُ، يُوشِكُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَ جَمَاعَةٍ فَلاَ تَرَى فِيهِ رَجُلاً خَاشِعًا). سنن الترمذي (٤ /٣٢٩)

ژباړه:جبیر رح وایې چې حضرت عباده بن صامت رضي الله عنه وفرمایل : که ستا خوښه وي زه به درته ووایم چې لومړی کوم یو علم له خلکو پورته کیږي؟ (هغه علم چې لومړی له خلکو پورته کیږي هغه ) خشوع ده. هغه وخت لیري نه دی چې مسجدته به ډیرخلک راځي خوتاسو به په کې یو خشوع کوونکی هم ونه وینئ .

**په لمانځه کې د امام څخه په افعالو او ارکانو کې مخکې کیدل:** د الله تعالی په دربار کې هغه لمونځ قبلیږي چې په سمه او صحیح توګه اداء شي او هغه لمونځ چې په سمه او صحیح طریقې سره اداء نکړل شي هغه نه قبلیږي لکه دامام څخه مخکې رکوع کول، دامام څخه مخکې سجده کول، دامام څخه مخکې سلام ګرځول. ځینې خلک لیدل کیږي چې امام رکوع ته یا سجدې ته د ښکته کیدلو تکبیر نه وي ویلی چې هغوی له امام څخه مخکې رکوع ته ښکته شوی وي او یا سجدې باندې لویدلی وي او امام په پوره ډول سلام نه وي ګرځولی چې هغوی دامام څخه مخکې سلام ګرځولی وي، چې په دې اړه زیات وعید راغلی دی او داکار د لمونځ د نه قبلیدو سبب ګرځي.

په حدیث شریف کې راځي: عن أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ مُحَمَّدٌ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَمَا يَخْشَى الَّذِي يَرْفَعُ رَأْسَهُ قَبْلَ الْإِمَامِ، أَنْ يُحَوِّلَ اللهُ رَأْسَهُ رَأْسَ حِمَارٍ؟» صحیح مسلم (١ /٣٢٠)

ژباړه: د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی ، هغه وايې چې حضرت محمد صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي آيا نه ويريږي هغه کس چې پورته کوي سر خپل مخکې له امام څخه داچې وبه گرځوي الله تعالی دهغه سر د خر د سر په شان.

په يو بل روايت کې راځي: عَنْ عَبْدِ الرَّحْمَنِ بْنِ عَلِيِّ بْنِ شَيْبَانَ، عَنْ أَبِيهِ: أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «مَنْ رَفَعَ رَأْسَهُ مِنَ الرُّكُوعِ قَبْلَ الْإِمَامِ فَلَا صَلَاةَ لَهُ» مصنف عبد الرزاق الصنعاني (٢ /٣٧٥)

ژباړه: د عبدالرحمن بن علی بن شيبان څخه روايت دی علی بن شيبان له خپل پلار څخه روايت کوي چې بيشکه نبي عليه السلام وفرمايل: څوک چې پورته کړي سر خپل له رکوع څخه مخکې له امام نه ، نو پس دده لمونځ نشته. يعنې لمونځ يې قبول نه دی.

**په مکروه وخت کې لمونځ کول:**

سم او صحيح لمونځ هغه دی چې په خپل وخت کې اداء کړل شي، څکه الله تعالی فرمايلي دي:{ إِنَّ الصَّلاَةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِينَ كِتَاباً مَّوْقُوتاً} النساء: (١٠٣)

ترجمه:بېشکه چې لمونځ دی پر مؤمنانو باندې فرض کړی شوی دی په معلومو اوقاتو کې

امام بيضاوي رح د[ كتاباً موقوتاً] په تفسير کې وايې: فرضا محدود الأوقات لا يجوز إخراجها عن أوقاتها في شيء من الأحوال.

فرض دی په محدودو وختونو کې ، جائز نه دي ويستل د لمانځه له خپلو وختونو څخه په هيڅ حالت کې. تفسير البيضاوى (٢ /٢٤٨)

ځينې کسان ناست وي ترڅو چې د لمانځه وخت ووځي او يا په وتو کې شي بيا پاځيږي او لمونځ کوي چې په حديث شريف کې داسې لمونځ ته دمنافقينو لمونځ ويل شوی دی.

عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- يَقُولُ « تِلْكَ صَلاَةُ الْمُنَافِقِينَ تِلْكَ صَلاَةُ الْمُنَافِقِينَ تِلْكَ صَلاَةُ الْمُنَافِقِينَ يَجْلِسُ أَحَدُهُمْ حَتَّى إِذَا اصْفَرَّتِ الشَّمْسُ فَكَانَتْ بَيْنَ قَرْنَىْ شَيْطَانٍ أَوْ عَلَى قَرْنَىِ الشَّيْطَانِ قَامَ فَنَقَرَ أَرْبَعًا لاَ يَذْكُرُ اللَّهَ فِيهَا إِلاَّ قَلِيلاً ». سنن أبى داود-ن (١ /١٥٩)

ژباړه: د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما دنبي عليه السلام څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: هغه د منافقانو لمونځ دی، هغه د منافقانو لمونځ دی، هغه دمنافقانو لمونځ دی چې کيني يو د ستاسې څخه ترڅو چې لمر زيړ شي او د شيطان د خکرونو په منځ کې واقع شي او يا يې داسې وويل: چې دشيطان په خکرونو باندې شي ؛ نو پاځي او څلور ټونگې ووهي ، نه يادوي الله تعالی مگر کم.

ربنا تقبل منا انک انت السميع العليم وتب علينا انک انت التواب الرحيم

والسلام عليکم